د افغاستان اسلامي جمهوريت | | جمهوری اسلامی افغانستان
د ټاکنيزو شکايتونوکميسيون | | کميسيون شکايات انتخاباتی

Islamic Republic of Afghanistan

Electoral Complaints Commission

# د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون اعلاميه

کابل ښار : ۱۳۸۹/۵/۱۹

**د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون ډير زيات شکايتونه ترلاسه کړي چې د رايې ورکونې د کارتونو د ويشلو مرکزونه لږ دي ، او دا چې د کارتونو د ويش وروستۍ نيټې ( د زمري يويشتمه ) ته نږدې شوي يو او ډير شمير غوښتونکي په دې نه دي بريالي شوي چې کارتونه ترلاسه کړي . نو په همدې اساس د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون که څه هم د د رايې ورکونې د کارتونو د ويش په برخه کې د ټاکنو د خپلواک کميسيون ستونزې درک کوي،خود ټاکنو د قانون د يوولسمې مادې د څلورم بند پربنسټ . د هر رايې ورکونکي د نوم ليکنې او د رايې ورکوونکو د نوملړ جوړښت د ټاکنو د خپلواک کميسيون دنده بولي نو ځکه له دغه کميسيون نه غوښتنه شوې، چې د امکان تربريده دې د رايې ورکونې د کارتونو د ويش وخت تمديد کړي او په هغو ځايونو کې چې د کارتونو د ويشلو ثابتو مرکزونو ته لاس رسي ستونزمن وي د کارت د ويشلو ګرځنده مرکزونه دې جوړ کړي ترڅو د افغانستان ټولو خلکو ته د عمومي او عادلانه ټاکنو زمينه برابره شي.**

## د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون